م. ص. اندړ


۲۸ می ۲۰۱۵

## لا هم نه مني چې دوی د آی اس آی ګوډاګي ول

که څه هم د استخباراتي معلوماتو شریک کول د دوه ګاونډې هیوادونو تر منځ یو نیک عمل دی خو دا چې آیا دلته دا کار کومه نیکه پایله به ولري او که نه، یوه پوښتنه ده چې له هر افغان سره پیدا کیږي.

که یو څوک دا سوچ وکړي چې د پاکستان دریځ د افغانستان په وړاندې بدلیږي، نو دا سوچ یې غلط دی او کیدای سي په رواني تکلیف مبتلا سوی وي. د پاکستان کومه دښمني چې افغانستان سره لري داسي نده لکه د روسانو دښمنی یا لکه د امریکا دښمنی. روسانو اصلاً د افغانانو سره دښمني نه درلود او نه هم لري بلکه کومه جګړه چې تیره سوه او دوه میلیون افغانان پکې شهیدان سول، هغه یوه ستراتیژیکه جګړه وه د ستراتیژیکو اهدافو د ترلاسه کولو په خاطر چې پایله یې د شوروي اتحاد ړنګیدل وه، خو د پاکستان دښمنی له افغانستان سره یو بیل شکل او ځانګړی علت لري. ډیورنډ کرښه، د اوبو ځیرمې، د افغانستان اقتصادي کمزورتیا هغه علتونه دي چې پاکستان ته دا اجازه نه ورکوي تر څو خپله تاریخي دښمنی ته د پای ټکی کیږدي.

آیا دا څنګه کیدای سي چې آی اس آی راته طالب جوړوي، تجهیز کوي یې او بیا بیرته ماته یې معرفي کوي؟ برباد افغانستان یوه ډیره ښه لنګه غوا ده د پاکستان د پاره، د کنړ سیند چې د اوبو یوه ډیره سرشاره منبع ده د توربیلا بند د پاره، افغانستان چې یو ډیر ښه بازار دی د پاکستان د پاره او هغه هم د ډیرو بې ارزښتو شیانو له پاره لکه پاپـړ، نو بیا پاکستان څنګه او د څه په خاطر د افغانستان نه لاس واخلي.

ملت حق لري که په داسي موضوعاتو باندې وغږیږي، ولې یواځې همدا ملت ده چې حساب ورباندې کیږي نه واکداران چې په زوره ځانونه یې په ملت باندې تپلي او ډوډۍ یې له خولې باسي او خپلو خیټو ته یې اچوي.

کله چې زه مجاهد یادوم نو زما هدف هغه مجاهد نده چې د خپلې وینې په بدل او د خپل سر په بیه وطن یې وګټل او د وطن د آزادۍ پرته کوم بل هدف یې نه درلود، بلکه زما هدف جهادي رهبران دي چې نه یې د جهاد نیت درلود او نه هم جهاد یې کړی او نه هم د یوه زوی او یا لور د جهاد په سنګر کې له منځه تللی بلکه د غریب زوی شهید سوی او د دوی زامن په انګلستان کې په مشهورو پوهنتونونو کې درس ویل چې یو یې د بهرنیو چارو وزیر سي او بل یې پارلمان کې وي او بل یې بیا د مارشال صاحب پر چوکۍ کیني او دیرش زره موټران یې تر شا روان وي.

ګلبدین وایي چې دا تړون یو شرموونکی تړون دی او بیا ځان ته برائت ورکوي. دی ګومان کوي چې افغان ملت تر اوسه هم نه پوهیږي چې چا د چا د پاره کار کول او هماغه مزدوران اوس د چا د پاره کار کوي. د سردار محمد داود


خان د یو ملي نظام په وړاندې د ملحدینو او کمونیست مزدورانو لخوا کودتا نه را پدي خوا، داسي یو ملي زعیم ندی پیدا سوی چي واقعا د ملت له منځه را ولاړ سوی وي او د چا غلام نوي.







دا لوړ عکسونه څه شی بیانوي حکمت یار صاحبه؟ دا لکه سي ته نه یې؟ ملي اتل دي بیا هم درسره یو ځای د کوډاګیتوب د پاره غلی ناست ده او د هیواد د خرابولو دستور ته مو غوږ نیولی.






دا دې هم سیاف او دا بل دې هم عبدالله عبدالله، آیا د عبدالله د دې حرکت نه تاسو د ده انتهایي مزدوری نه تشخیصوی؟ دې ته د ذلت خندا وایي ، کله چي انساني ضمیر د انسان په بدن کي مړ سي نو بیا همداسي مزدوري خندا زده کوي. تاسو د دنیا په هیڅ ګوټ کي داسي یو ذلیل انسان نسی موندلی چي د ریاست جمهوري ادعا وکړي او د یو پردي هیواد یو وزیر ته دومره سر ټیټ کړي لکه تاسو چي دې عکس کي وینی.

آیا تاسو مجاهدین (هدف مي لوړ لیکلی د مجاهد په هکله) په رښتیا د اسلام او اسلامي نظام د جوړولو په خاطر راولاړ سوي واست او که د ډالر او د وطن د ویجاړولو او د پاکستان د اهدافو د پلي کولو په خاطر؟ آیا دا د تاسو خپلمنځي جګړه د آی اس آی په دستور نه وه؟ آیا تاسو داسي ګومان کوی چي دا ملت په هیڅ نه پوهیږي او نه ماغزه لري چي تاسو وپیژني؟ آیا ته او خدای چي همدا اوس ته د آی اس آی په غیږه کي ناست نه یې؟

جناب ګلبدینه!

نور ملت د تاسو په خبرو نه غولیږي الا د تاسو غوندي د انساني ضمیر نه تش انسانان، ته او دا نور ګوډاګي دې تشخیص سوي یاست، نور دا هڅه مه کوه چي ملت وغولوې. قوماندان زرداد دې اوس هم زما په یاد دی چي یو د دوه پښو سپی یې درلود او په خلکو ظلم کول، هغه د تاسو جګړه او د هیواد چور کول او د هیواد ورانول، د بیګناهو خلکو وژل دا ټول زما په یاد دي، او پدې ډیر ښه پوهیږو چي د تاسو خپلمنځي جګړه د آی اس آی په واسطه پلان سوې وه او نن هم د هماغه آی اس آی په غیږ کي ناست یې او کنه وختي تر خاورو لاندي وې.

نېټه: ۳ شعبان ۱۴۳۶ ه ق
پرله پسې ګڼه: ۱۷۶۹

بسم الله الرحمن الرحیم

وَأُخْرَىٰ تُحِبُّونَهَا نَصْرٌ مِّنَ اللَّهِ وَفَتْحٌ قَرِيبٌ وَبَشِّرِ الْمُؤْمِنِينَ

د شرمونکي تفاهمليک په اړه د حزب اسلامي افغانستان اعلاميه

د افغانستان د مؤمن او مجاهد ملت د توجه وړ!

په دې وروستيو کې د کابل د مزدور رژيم د ملي امنيت رياست د امريکا په اشاره د پاکستان د آی ایس آی له سازمان سره د يوه ذليلوونکي تړون له لارې د جهادي حرکتونو د ځپلو په موخه يو له شرمه ډک تفاهمليک لاسليک کړی دی چې هدف يې د افغانستان د ملي حاکميت، ارضي تماميت او استقلال تر پښو لاندې کول دي.

د کابل مزدوري ادارې په خپل دې کار يو ځل بيا ثابته کړه چې په تېرو ديارلسو کلونو کې پر مجاهدينو باندې د دوی دا تور چې ګواکې مجاهدين د آی ایس آی لخوا حمايه کېږي يو غلط او بې بنسټه تهمت و. دا دی د افغانستان مسلمان ملت او مؤمنو وګړيو ته ثابته شوه چې د آی ایس آی غلامان مجاهدين نه بلکې د کابل مزدوره اداره ده.

په احترام
د حزب اسلامي افغانستان امير
انجنير ګلبدين حکمتيار

د آزاد او سرلوړی افغانستان په هيله

م. ص. اندړ

***يادداشت:***

*همان طوری که قبلاً نيز نګاشته ايم، ما باند های خلق و پرچم را هيچ ګاهی «کمونيست» ندانسته و استفادهٔ آګاهانه از اين ترمينولوژی در مورد آنها را، همسوئی تبليغاتی با نهاد های استخباراتی غرب به خصوص «سی. آی. ای.» و «آم. آی. ۶.» می دانيم.*

*ادارهٔ پورتال AA-AA*